

قرآني بيان

# د شُکر ورځې

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 27 مارچ، کال 2026ء

(متوقع اسلامي تاريخ: 7 شوال شريف، کال 1447ھ)

د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 27 مارچ، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 7 شوال شریف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

په نوم

# د شُکر ورځې

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د اللّٰهُ اکبر وئیلو فضیلتونه
- دواړه لاسونه يې د خیر نه ډک شول
- د عبادت نه پس د شُکر حِکمتونه
- د ټولو نه وړوکے نِعمت

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم:

مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ حِیْنَ یُصْبِحُ عَشْرًا وَّحِیْنَ یُمْسِی عَشْرًا اَدْرَکَتْهُ شَفَاعَتِیْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ۔

د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې په ما باندې 10 کرته سحر او 10 کرته ماښام دُرُودِ پاک ولوستو، هغه به د قيامت په ورځ زما شفاعت ومومي- (1)

| | |
|---|---|
| ہمارے لبوں پر ہو ہر پل یہی صبح و شام | پیارے نبی پر ہر پل لاکھوں درود و سلام |
| کاش وِردِ زباں ہو ہمارے صبح و شام | پیارے نبی پر ہر پل لاکھوں درود و سلام |
| حمد و نعت پڑھتے ہوئے عمر مری ہو تمام | پیارے نبی پر ہر پل لاکھوں درود وسلام |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...کتاب الصلاۃ علی النبی، باب الصلاۃ علی النبی عند الصباح والمساء، صفحه:28، حدیث:61۔

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

(پاره: 2، سورۂ البقرۃ: 185)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلّی اللہُ عَلَیْہِ وَ اٰلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د پاره د دې چې تاسو پهٔ دې خبره د الله لوئي والے بیان کړی چې هغهٔ تاسو ته هدایت درکړو او چې تاسو شُکر ګزر جوړ شی۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د رمضان میاشت راغلې وه او آه---!! اوس رَمَضَانُ الْمُبَارَک د 11 میاشتو جدائي راکړه او لاړه- خوش قِسمتو د دې مبارکې میاشتې روژې ونیولې، پهٔ پابندۍ سره یې تراویح اوکړې، د قرآنِ کریم تِلاوت یې اوکړو، پهٔ ذِکر او درود کښې یې وخت تیر کړو، ډیرې نیکۍ یې اوکړې، د اِعتکاف خوندونه یې واخستل، پهٔ شبِ قدر کښې یې عبادتونه اوکړل، پهٔ لکونو خوش قِسمته به وي د کومو چې د بخښنې چیټۍ نصیب شوې وي او آه---!! مونږ ګنهګارانو بس پهٔ ناراستۍ کښې ورځې تیرې کړې، پهٔ نن سبا، نن سبا کولو ټوله میاشت تیره شوه، پته نهٔ لګي چې پهٔ راتلونکي کال کښې به مو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک لیدل نصیب کیږي او که نهٔ---!!

| | |
|---|---|
| نیکیاں کچھ نہ ہم کر سکے ہیں | آہ! عصیاں میں ہی دن کٹے ہیں |
| ہائے! غفلت میں تجھ کو گزارا | اَلوَداع اَلوَداع آہ! رَمضاں |

| | |
|---|---|
| جب گزر جائیں گے ماہ گیارہ | تیری آمد کا پھر شور ہو گا |
| کیا مِری زندگی کا بھروسا | اَلوَداع اَلوَداع آہ! رَمضاں (1) |

الله پاک دې زمونږ د ټولو په راتلونکې کال کښې هم د رَمَضَانُ المُبَارَک د میاشت لیدل، د دې د برکتونو حاصلول نصیب کړي- کاش چې د روژې د میاشت په برکت مونږ ټیک شو، بے حسابه مو جَنَّت ته تلل نصیب شي-

اٰمِیۡنۡ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د قرآن د آیت وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ په شروع کښې د دویمې سیپارې، د سورۀ بقره، د آیت: 185 د یوې حصې د اوریدو سعادت حاصل کړو، په دې آیت مبارک کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک نه پس د ژوند د 2 آدابو تعلیم را کړے شوے دے- آیت مبارک واورئ! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾<br>(پاره: 2، سورۀ البقرۃ: 185) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د پاره د دې چې تاسو په دې خبره د الله لوئي والے بیان کړئ چې هغه تاسو ته هدایت درکړو او چې تاسو شُکر ګزر جوړ شئ- |

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه: 653652 ملتقطًا-

يعنې اے ايمان والؤ! د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې پۀ ختميدو چې کله د اختر مياشت ووينی نو پۀ خوشحالی کښې د **الله** پاک حمد کوئ يا تکبير وايئ! ځکه چې رَبِّ کريم تاسو ته د روژو توفيق درعطا کړو او د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې پۀ عبادتونو باندې فخر مۀ کوئ! ولې چې دا ستاسو کمال نۀ دے بلکې پۀ دې باندې د **الله** پاک شُکر ادا کوئ چا چې تاسو ته د دې عبادتونو توفيق درعطا کړے، دا د هغۀ مهرباني ده۔ (1)

| | |
|---|---|
| شکرِ خالق کس طرح سے ہو اَدا | اک زباں اور نعمتیں بے اِنتہا |
| پھر زباں بھی کس کی مجھ ناچیز کی | وہ بھی کیسی جس کو عصیاں کا مزا |
| گننے والے گنتیاں محدود ہیں | تیرے اَلطاف و کرم بے انتہا(2) |

## د آيت مبارک د رمضان سره تعلق

علّامه حرَّالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډير لوئې عالِمِ دِين تير شوے دے، هغوئې د آيت مبارک د دې حصې ډير ښکلے وضاحت فرمائيلے دے، د هغوئې د فرامينو خُلاصه څۀ داسې ده چې پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې بندګانو ته يو خاص قِسم له هدايت ميلاؤيږي (زړونه نرميږي، د نيکۍ رغبت زياتيږي، بيا) د روژه دار ډير زيات برکتونه نصيب کيږي، د روژې پۀ مياشت کښې د بخښنې اسباب زياتيږي، د شبِ قدر پۀ شان نعمت نصيب کيږي، دا چې کوم خاص قِسم له هدايت پۀ زړونو کښې صرف د روژې د مياشت د پاره ايښودے کيږي، (3)

---

[1] …تفسير نعيمی، پاره:2، سورۀ بقرة، زير آيت:185، جلد:2، صفحه:225 خلاصةً۔

[2] …کلياتِ حسن، صفحه:745۔

[3] …نظم الدرر، پاره:2، سورۀ بقرة، زير آيت:185، جلد:1، صفحه:346 خلاصةً۔

**اللّٰه** پاک مونږ ته په دې هدایت باندې د شُکر ادا کولو حکم اوکړو او د دې یې 2 طریقې راښودلې دي: **(1)**: د اللّٰه پاک تکبیر وایئ! یعنې **اللّٰهُ اکبر** لولئ! **(2)**: د اللّٰه پاک شُکر ادا کوئ!

بیا د دې په حِکمت بیانولو علامه حرَّالي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه فرمائي: د رَمَضَانُ المُبَارَک نه فوراً پس اختر راځي او د اختر ورځې د خوشحالۍ ورځې وي، عام طور د اِنسان طبیعت داسې دے چې د خوشحالۍ په وخت پرې غفلت راخور شي، اِنسان د **اللّٰه** پاک د حدونو نه اوړي، بعضې وخت خو د خوشحالۍ اِظهار د سرکشۍ په انداز کښې (مثلاً په شرابو څښلو، په درز غوبل، په چغو سورو وهلو) کوي- دا د خوشحالۍ ورځې داسې د غفلت طرف ته بوتلونکې دي، ځکه **اللّٰه** پاک د دې موقعې د پاره خصوصي تعلیمات راکړل چې اے ایمان والؤ! د روژې میاشت ختمه شوه، اوس په دې موقع باندې اَللّٰهُ اَکۡبَر ووایئ! د **اللّٰه** پاک تکبیر د هغهٔ لوئي والے بیان کړئ! او د ګناهونو نه په بچ کیدو، په نیکو کښې په زړهٔ لګولو، د دې درکړے شوو نعمتونو شُکر ادا کوئ! [1]

## د آیت نه میلاؤیدونکي دوه اهم سبقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اوس چې مونږ کومې ورځې تیروو، یعنې په رَمَضَانُ المُبَارَک پسې نزدې ورځې--!! په دې ورځو کښې دا دوه کارونه مونږ ته لازمي کول پکار دي:

---

[1]... نظم الدرر، پاره:2، سورهٔ بقرة، زیر آیت:185، جلد:1، صفحه:345 خلاصةً۔

## (1): د الله پاک لوئي والے بيانول دي

ورومبے کار: د **الله** پاک لوئي والے بيانول دي- اَللّٰهُ اَكْبَرَاَللّٰهُ اَكْبَر ښه ډير وئيل دي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زَيِّنُوْا اَعْيَادَكُمْ بِالتَّكْبِيْرِ يعني د خپل اختر (او خوشحالئ) ورځې ښکلي جوړې کړئ! (څنګه؟) د **الله** پاک پۀ لوئي والي بيانولو-[1]

## د اللهُ اکبر وئيلو فضيلتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: واه واه---!! دا 5 څيزونه پۀ ميزان باندې خومره درانۀ دي: (1): لَا اِلٰهَ اِلَّا الله (2): اَللّٰهُ اَكْبَر (3): سُبْحٰنَ الله (4): اَلْحَمْدُ لِلّٰه لوستل (5): او د اِنسان هٰغه ځوي کوم چې وفات شو او اِنسان پۀ هغې باندې صبر اوکړو-[2]

حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما د نبيانو د نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: 2 کلمې دي: يوه هٰغه کومه چې عرش ته د تللو نه څوک نشي منع کولے، دويمه هٰغه چې زمکه او اسمان ډکوي (او هٰغه کلمې دا دي): (1): لَا اِلٰهَ اِلَّا الله (2): اَللّٰهُ اَكْبَرَ-[3]

د حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د نبيانو اِمام، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

---

[1]... معجم الصغير، باب العين، من اسمه عبدالله، صفحه:431، حديث:599-

[2]... مسند امام احمد، مسند المكيين، حديث مولى لرسول الله، جلد:6، صفحه:421، حديث:16067-

[3]... معجم الكبير، باب الميم، عبدالرحمن بن ابي عمرة عن معاذ، جلد:8، صفحه:465، حديث:16748-

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې یو ځل ووئیل: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکْبَر **اللّٰه** پاک به د هغۀ څلورمه حصه د دوزخ نه ازاده کړي، چا چې پۀ دویم ځل ووئیل، **اللّٰه** پاک به د هغۀ نیمه حصه د دوزخ نه ازاده کړي او چا چې 4 کرته دا کلمات ووئیل **اللّٰه** پاک به هغۀ ته پۀ مکمله توګه د دوزخ نه ازادي ورکړي۔ [(1)]

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے، اِمامِ انبیاء، د دواړو جهانو داتاء، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **اللّٰه** پاک دا کلمات خوښ کړي دي: (1): سُبْحٰنَ اللّٰه (2): اَلْحَمْدُ لِلّٰه (3): اَللّٰهُ اَکْبَر۔ بس چې چا سُبْحٰنَ اللّٰه ووئیل، د هغۀ د پاره به 20 نیکۍ لیکلے کیږي، 20 ګناهونه به یې ورانولے کیږي۔ چا چې اَللّٰهُ اَکْبَر ووئیل، هغۀ ته به هم دغه ثواب میلاؤیږي، چا چې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ووئیل، هغه ته به هم دغه ثواب میلاؤیږي او چا چې د زړۀ نه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْن ووئیل، هغه ته به 30 نیکۍ میلاؤیږي او 30 ګناهونه به یې ورانولے شي ۔[(2)]

رسولِ بے مثال، د آمنه بي بي لعل صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کوم اِنسان چې سُبْحٰنَ اللّٰه یا اَلْحَمْدُ لِلّٰه یا اَللّٰهُ اَکْبَر وائي نو **اللّٰه** پاک د هغه د نوم یوه ونه پۀ جَنَّت کښې نالوي، هٔغه ونه هم داسې چې د هغې تنه د سرو زرو ده، د هغې بره حصه د لعلونو ده، پۀ هغې باندې ملغلرې او یاقوت لګیدلي دي، د دې میوه به غټه غټه، د کوچو نه زیاته نرمه، د شاتو نه

---

[1] ... معجم اوسط، باب المیم، من اسمه مقدام، جلد:6، صفحه:329، حدیث:8941۔

[2] ... مصنف ابن شیبه، کتاب الدعاء، فیما اصطفی الله من الکلام، جلد:7، صفحه:134، حدیث:1۔

زیاته خوږه وي۔ (1)

حضرت ابو درداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائیل: اے ابو درداء سُبْحٰنَ اللہ وایه! اَلْحَمْدُ لِلّٰه وایه! لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وایه! اَللّٰهُ اَکْبَر وایه! لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وایه! بے شکه دا باقي پاتې کیدونکې نیکۍ دي، د دې کلماتو په برکت سره ګناهونه داسې رژیږي لکه ځنګه چې د ونو نه پاڼې رژیږي او دا کلمات د جَنَّت د خزانو نه دي۔ (2)

په یو حدیثِ پاک کښې دي، مَکّي مَدَني آقا، رسولِ خُدا اَحمد مجتبیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَللّٰهُ اَکْبَر وئیل د اُحد د غر نه لویه نیکي ده۔(3)

## دواړه لاسونه یې د خیر نه ډک شول

حضرت عبد الله بن ابو اوفیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل یو اعرابي (یعنې کلي وال صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) دربارِ رسالت ته حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما ته قرآنِ کریم نهٔ یادیږي، داسې عمل راته وښایئ! چې د هغې په ذریعه د قرآن د تِلاوت همره ثواب راته میلاؤ شي (ظاهره ده چې په هغه وخت کښې د چاپ کیدو انتظام نهٔ وو، صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان به قرآنِ کریم په یادو یادولو او تِلاوت به یې کولو، او دې صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یادولے نهٔ شو، ځکه یې دا پوښتنه اوکړه)، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

---

1 ... معجم اوسط، باب الباء، من اسمه بکر، جلد:2، صفحه:249، حديث:3170۔

2 ... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، باب ما جاء في الباقيات الصالحات ونحوها، جلد:10، صفحه:77، حديث:16855۔

3 ... کتاب الدعاء، باب فضل التسبيح والتحميد، صفحه:529، حديث:1691۔

وَسَلَّم وفرمائيل: داسې وايه: سُبْحٰنَ الله! وَالْحَمْدُ لِلّٰه! وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ۔

راوي فرمائي: هغه اعرابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دا کلمات په خپلو ګوتو باندې وشميرل نو 5 وو- وه يې شميرل او لاړو- لږ ساعت پس واپس راغلو، عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! په دې کلماتو کښې زما د رَبّ تعريف دے، زما د پاره پکښې څۀ دي؟ (يعنې ما د خپل رَبّ تعريف خو اوکړو، اوس زۀ د خپل ځان د پاره څۀ وغواړم او څنګه يې وغواړم؟)، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: داسې ووايه: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی، وَارْحَمْنِیْ وَاهْدِنِیْ وَارْزُقْنِیْ وَعَافِنِیْ (اے الله! ما وبخښې، په ما رحم اوکړې، ما ته هدايت اوکړې، ما ته رزق راعطا کړې او زما عافيت نصيب کړې)- راوي وائي: هغه اعرابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دا کلمات هم په خپلو ګوتو باندې وشميرل نو دا هم 5 وو- (بيا هغوئي دا اراده اوکړه چې زۀ به دا 10 کلمات لولم) واپس لاړو- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اعرابي چې څۀ ووئيل، که دا پوره کړي نو هغه خپل دواړه لاسونه د خير نه ډک کړل- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دي د اَللّٰهُ اَكْبَر د لوستلو فضيلتونه، يو ځل

◈ د يو اَللّٰهُ اَكْبَر لوستلو سره 20 نيکۍ ميلاؤيږي، 20 ګناهونه ورانولے کيږي ◈ اَللّٰهُ اَكْبَر وئيل د اُحد د غر نه لويه نيکي ده ◈ اَللّٰهُ اَكْبَر هغه نيکي ده کومه چې به په ميزان باندې درنۀ وي ◈ د اَللّٰهُ اَكْبَر وئيلو سره په جَنَّت کښې د سرو زرو او د لعلونو ونه نالولے کيږي ◈ 4

---

[1] … مصنف ابن شيبه، کتاب الدعاء، ما علم النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم …الخ، جلد:7، صفحه:128، حديث:1۔

کرته اَللّٰهُ اَکْبَر ویونکي ته د دوزخ نه ازادي ورکړې کيږي او ◈ اَللّٰهُ اَکْبَر وئيل د جَنَّت د خزانو نه يوه خزانه ده-

سُبْحٰنَ الله! دا هغه ورځې دي چې پهٔ دې ورځو کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې د تللو نه پس **الله** پاک مونږ ته د تکبير وئيلو حکم کړے دے- ځکه پهٔ دې ورځو کښې ډير زيات اَللّٰهُ اَکْبَر لولئ! بلکې ورسره سُبْحٰنَ الله هم لولئ! اَلْحَمْدُ لِلّٰه هم لولئ! لَا اِلٰهَ اِلَّا الله لولئ! لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ هم لولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! دومره ثواب به درته ميلاؤيږي، لکه څومره ثواب چې د قرآنِ کريم پهٔ تلاوت باندې ميلاؤيږي- **الله** پاک دې مونږ ټولو ته پهٔ سره د **الله** پاک د ذِکر کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): شُکر ادا کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دويم نيک کار کوم چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشت نه پس مونږ ته د کولو حکم راکړے شوے دے، هغه دے د **الله** پاک شُکر ادا کول- دا ډيره اعلیٰ نيکي ده، علمائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: **الله** پاک پهٔ قرآنِ مجيد کښې د رمضان د مياشتې ذِکر وفرمائيلو، د دې فضيلتونه يې بيان کړل، د دې پهٔ باره کښې يې تعليمات ورکړل نو د دې تعليماتو شروع يې د تقویٰ نه اوکړه، اِرشاد دے:

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾

(پاره:2، سورۂ البقرة:183)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! پهٔ تاسو روژې فرض کړے شوې ځنګه چې تاسو نه مخکښې خلقو باندې فرض کړے شوې وې چې تاسو پرهیزګاره جوړ شی۔

یعنې اے ایمان والؤ! د رَمَضَانُ المُبَارَک د میاشتې روژې نیسئ! ستاسو به تقویٰ نصیب شي- بیا یـې د دې تعلیماتو پهٔ اخره کښې وفرمائیل:

وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

(پاره:2، سورۂ البقرة: 185)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د پاره د دې چې تاسو پهٔ دې خبره د الله لوئي والے بیان کړئ چې هغهٔ تاسو ته هدایت درکړو او چې تاسو شُکر ګزار جوړ شی۔

معلومه شوه چې د نیکۍ شروع د تقویٰ نه او ختمیدل یـې پهٔ شُکر باندې وي۔

## د عبادت نه پس د شُکر حِکمتونه

سیِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: کله چې د اِنسان د عبادت توفیق نصیب شي نو د دې عظیم الشان نعمت نه پس پهٔ 2 وجو شُکر لازمي ادا کول پکار دي: (1): وړومبے خو دې د پاره چې د شُکر کولو سره نعمت ته دوام میلاؤیږي یعنې

نِعمت باقي پاتې کيږي- اخستے کيږي نۀ (2): دويم دې د پاره چې د شُکر پۀ برکت سره نِعمتونه زياتيږي، لهذا که چرې مونږ د عبادت پۀ توفيق ميلاؤيدو باندې شُکر ادا کوو نو د دې پۀ برکت به د نورو عبادتونو توفيق رانصيب کيږي-[1]

## د نيکئ حفاظت ضروري دے

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږه د رمضان مياشت نصيب شوه، د بخښنې والا ساعتونه مو نصيب شول، د رحمتونو والا ورځې مو نصيب شوې، اَلْحَمْدُلِلّٰه! خوش قِسمتو روژې ونيولې، تراويح يې اوکړې، تلاوت يې اوکړو، نيک کارونه يې اوکړل، د پيشمنې او د روژه ماتي برکتونه يې حاصل کړل، دا د الله پاک عظيم نعمتونه دي، الله پاک مونږ ته د دې توفيق راعطا کړو، اوس پۀ مونږ باندې لازم دي چې پۀ دې باندې د الله پاک شُکر ادا کوو، د دې سره به اِنْ شَآءَالله الْکَرِيم! د ځان خوبنئ د آفت نه بچ شو-

دلته يوه خبره ډيره اهمه ده، هميشه د ياد ساتلو ده، الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ<br>(پاره:8، سورۃالانعام:160) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک چې يوه نيکي راوړي نو د هغۀ د پاره د هغې پۀ شان 10 نيکئ دي- |

---

[1] ... منهاج العابدين، العقبه السابعه وهي عقبة الحمد والشکر، صفحه:385-

علمائے کرام فرمائي: دلته **اللّٰه** پاک دا وہ نۀ فرمائیل چې څوک نیکي اوکړي هغۀ ته به د قیامت پۀ ورځ 10 چنده اجر میلاؤیږي بلکې وہ یـې فرمائیل: څوک چې نیکي راوړي او د قیامت پۀ ورځ د رَبّ دربار ته را ورسیږي، هغۀ ته به 10 چنده اَجر میلاؤیږي- (1)

یعنې نیکي کول یو کار دے، بیا دا نیکي پۀ حفاظت سره قبر ته وړل، دا هم ډیر ضروري دي، ډیرې زیاتې بدۍ شته د کومو پۀ وجه چې نیکۍ بربادیږي، مثلاً ◈ د رِیا پۀ وجه نیکۍ بربادیږي ◈ د ځان خوښۍ پۀ وجه نیکۍ بربادیږي ◈ د غیبت، حسد وغیره باطني بیمارو پۀ وجه نیکۍ خوړلے کیږي ◈ ظلم کول، مسلمانانو وروڼو ته بر ناحقه تکلیف رَسَوَل د نیکو د بربادۍ سبب جوړیږي، اوس مونږ نیکۍ خو کړې دي، **اللّٰه** پاک توفیق راعطا کړو نو مونږ روژې ونیولې، توفیق نصیب شو نو تراویح مو اوکړې، توفیق رانصیب شو نو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ میاشت کښې مو نیک کارونه اوکړل، اوس لازمي دي چې مونږ د دې نیک کارونو حفاظت اوکړو، دا به څنګه کوو؟ **اللّٰه** پاک مونږ له د شُکر تعلیم راکړو، چې د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! دې نعمت ته به دوام نصیب شي-

**اللّٰه** پاک دې زمونږه د شُکر توفیق نصیب کړي- اوس چې دا کومې ورځې تیریږي، پۀ دې ورځو کښې پۀ 2 وجو پۀ مونږ باندې شُکر کول لازمي دي- وړومبے پۀ دې وجه چې **اللّٰه** پاک مونږ ته رَمَضَانُ الْمُبَارَک د برکتونو والا، د عظمتونو والا، د بخښنو والا میاشت راعطا کړه- لهذا پۀ دې باندې شُکر ادا کړئ، د قرآنِ کریم وعده ده چې څوک شُکر کوي،

---

1 …تنبیه الغافلین، باب ما جاء فی الذنوب، صفحه:210۔

هغهٔ ته زيات ميلاؤيږي، اوس شُکر ادا کړئ، د **اللّٰه** پاک د رحمت نه طمع ده چې راتلونکي کال کښې به هم رَمَضَانُ الْمُبَارَک ليدل نصيب شي- که چرې ژوند وفا اوکړه نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د تير رَمَضَانُ الْمُبَارَک برکتونه به زيات نصيب شي- بهر حال! رَمَضَانُ الْمُبَارَک زمونږ نصيب شو، پهٔ دې باندې شُکر ادا کړئ-

## شُکر گزار کاڼے

اِمام ابو القاسِم قُشَيري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: د **اللّٰه** پاک يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ يو ځائے تيريدلو، هغوئي پهٔ لاره کښې يو وړوکے شان کاڼے وليدلو، د هغهٔ نه مسلسل اوبهٔ بهيدلې، د غر نه د چينې جاري کيدل د معمول خبره ده خو د وړوکي کاڼي نه اوبهٔ راوتل او مسلسل راوتل دا د حيرانتيا خبره ده، د **اللّٰه** پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام د کاڼي نه د اوبو د بهيدلو پهٔ ليدلو حيران شو نو **اللّٰه** پاک هٔغه کاڼي ته د خبرو کولو طاقت عطا کړو، کاڼي عرض اوکړو: اے د **اللّٰه** پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ! د کله نه چې ما ته معلومه شوې ده چې د دوزخ خشاک انسانان او کاڼي دي، د هٔغه وخت نه د **اللّٰه** پاک د ويرې نه ژړيږم، تاسو عَلَيْهِ السَّلَام چې زما نه کومې اوبهٔبهيدل وينئ، دا اوبهٔ نهٔ بلکې زما اوښکې دي کومې چې د **اللّٰه** پاک د ويرې له وجهې بهيږي- د کاڼي د درد نه ډکه دا خبره چې يــې واوريدله نو د **اللّٰه** پاک د نبي عَلَيْهِ السَّلَام پرې رحم راغلو، هغوئي لاسونه پورته کړل، د **اللّٰه** پاک پهٔ دربار کښې يــې دُعا اوکړه چې يا **اللّٰه** پاکه! دا کاڼے د دوزخ د وور نه محفوظ کړې- **اللّٰه** پاک د هغوئي دُعا قبوله کړه او فوراً يــې وحي راوليږله چې مونږ دا کاڼے د دوزخ د وور نه ازاد کړو- د **اللّٰه** پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام کاڼي ته دا زيرے واورولو او وړاندې يــې تشريف يوړلو، کله چې واپس راغلو نو وه يــې ليدل چې

د کانړي نه اوس هم اوبۀ رواني دي، د **الله** پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ترینه پوښتنه اوکړه: تا ته خو د دوزخ نه د ازادۍ زیرے میلاؤ شوے دے، اوس څۀ معامله ده؟ اوس ولې ژړېږې؟ کانړي عرض اوکړو: ذٰلِكَ كَانَ بُكَاءَ الْخَوْفِ وَهٰذَا بُكَاءُ الشُّكْرِ یعنې مخکښې د **الله** پاک د ویرې نه اوښکې بهیدلې، اوس د شُکر اوښکې توئیوم۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د **الله** پاک پۀ فضل او کرم سره زمونږ رَمَضَانُ الْمُبَارَک نصیب شو، اګر چې څوک هم پۀ حتمي او یقیني توګه دا نۀ شي وئیلے چې زۀ بخښلے شوے یم، البته زمونږ د بخښنې ډیره لویه ذریعه نصیب شوه ◈ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د میاشتې هر ساعت د برکت والا دے ◈ پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې روزانه د روژه ماتي پۀ وخت 10 لاکه داسې ګنهګاران بخښلے کیږي، پۀ چا باندې چې دوزخ واجب شوے وي ◈ او د جُمعې پۀ ورځ خو پۀ هر یو ساعت کښې 10، 10 لاکهه خلق بخښلے کیږي۔ کاش چې مونږ هم پۀ دې بخښلے شوو کښې وشمیرلے شو۔

| | |
|---|---|
| بخش دے میری ساری خطائیں | کھول دے مجھ پر اپنی عطائیں |
| برسادے رَحمت کی بَرکھا | یااللہ! مری جھولی بھر دے (2) |

خیر! **الله** پاک مونږ ته د بخښنې او مغفرت داسې ذریعه راعطا کړله، پۀ مونږ باندې لازم دي چې اوس د **الله** پاک ډیر زیات شُکر ادا کوو۔

---

[1]… رساله قشیریه، کتاب الشکر، صفحه:213۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحه:123۔

## د اختر پهٔ میلاؤیدو شُکر ادا کړئ!

پهٔ دې ورځو کښې دویم پهٔ دې وجه شُکر لازمي دے چې **اللّٰه** پاک مونږ ته د اختر خوشحالئ راعطا کړې، نوې نوې جامې، ښه ښه خوراکونه، د خوشحالئ نه ډک ماحول رانصیب شو، د اختر نـمونځ راته میلاؤ شو، د زکوٰة او د سرسایه وغیره ادا کول مو نصیب شول، دا چې د خوشحالو کوم ماحول زمونږ نصیب شو، پهٔ دې باندې هم د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کول پکار دي۔

## د حضرت نُوح عَلَیْهِ السَّلَام یو صفت

د **اللّٰه** پاک نبي دے، حضرت نُوح عَلَیْهِ السَّلَام د هغوئي پهٔ باره کښې پهٔ قرآنِ کریم کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ﴿۳﴾ (پاره:15، سورهٔ بنی اسرائیل:3) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه یقیناً ډیر شُکر گزار بنده وو۔ |

یعني حضرت نُوح عَلَیْهِ السَّلَام ډیر شُکر گزار بنده دے۔ هغوئي ته شُکر گُزار ولې ووئیلے شو؟ حضرت مجاهد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: حضرت نُوح عَلَیْهِ السَّلَام ډیر شُکر گزار بنده وو، هغوئي چې به کله خوراک کولو نو د **اللّٰه** پاک شُکر به یـې ادا کولو، کله به چې یـې څه څښل نو د **اللّٰه** پاک شُکر به یـې ادا کولو، کله چې به یو قدم تللو نو پهٔ دې باندې به یـې هم شُکر ادا کولو، کله به چې یـې څهٔ څیز نیولو نو پهٔ هغې باندې به یـې هم شُکر ادا

کولو- [1]

حضرت محمد بن کعب رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: حضرت نُوح عَلَیۡہِالسَّلَام به چې کله خوراک کولو نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه به يې وئيل- کله چې به يې څه څښل نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه به يې وئيل، کله چې به يې جامې اغوستلې نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه به يې وئيل- کله چې به په سورلۍ کيناستو نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه به يې وئيل- ځکه الله پاک د هغوئي نوم شُکر ګزار بنده کيښودو- [2]

سُبۡحٰنَ الله! څومره ځانګړے شان دے، په هره خبره باندې اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! وئيل، الله پاک مونږ ته څنګه نعمتونه راعطا کړي دي، دومره نعمتونه دي، دومره نعمتونه دي، شميرل خو يې لويه خبره ده، په مونږ باندې چې هر ساعت کوم نعمتونه راوريږي، مونږ هغه پيژنو هم نه، لږ غور اوکړئ چې زمونږ په وجود کښې څومره اندامونه دي، آيا مونږ ته د دې ټولو نومونه ياد دي؟ زمونږ په وجود کښې دننه کوم کوم اندامونه دي، خوراک دننه څنګه ځي، څنګه هضميږي، د کوم کوم ځائے نه تيريږي، يوه غټه مشينري په مونږ کښې دننه چليږي، که لوئي لوئي ډاکټرانو ته د دې اندامونو نومونه معلوم وي نو معلوم به وي ګني مونږ له خو د دې نومونه هم نه راځي، بيا مونږ د دې نعمتونو شُکر ولې ادا نه کړو---؟

---

[1] …الزہد لابن مُبارَک، الجزء السابع، باب ذکر رحمة الله تبارک وتعالیٰ، صفحه:280، حديث:941۔

[2] …الزہد لامام احمد، زہد نوح عَلَیۡہِ السَّلَام، صفحه:80، حديث:281۔

## د تولو نه وړوکے نعمت

حضرت ابو ايوب احمد بن محمد بن جابر قرشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** پاک پهٔ دربار کښې عرض اوکړو: اے **الله** پاکه! ما د خپل د تولو نه د وړوکي نعمت نه خبر کړې؟ نو **الله** پاک د هغوئي طرف ته وحي نازله کړه: اے داؤده! ساه واخله- هغوئي چې ساه واخستله نو **الله** پاک اِرشاد وفرمائيلو- دا پهٔ تا باندې زما د تولو نه وړوکے نِعمت دے- (1)

## د شُکر فضيلتونه

**الله** پاک دې مونږ ته د شُکر ادا کولو توفيق راعطا کړي ◈ شُکر د اعلیٰ درجې عبادت دے ◈ د شُکر توفيق عظيم سعادت دے ◈ پهٔ شُکر کښې د نعمتونو حفاظت دے ◈ د شُکر پهٔ برکت نعمتونه زياتيږي ◈ شُکر د الله والؤ عادت دے ◈ شُکر د رَبِّ کريم اطاعت دے- حضرت سعيد بن جبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: جَنَّت ته به وړومبے هغه داخليږي خوک چې پهٔ خوشحالیٔ او غم کښې د **الله** پاک حمد کوي- اِمام سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قول ذِکر کولو نه پس فرمائي: يوهٔ شئ چې حمد او شُکر ◈ د مخکښينو وروستنو خلقو عبادت دے ◈ دا د فرښتو هم عبادت دے ◈ د نبيانو هم عبادت دے ◈ د زمکې والؤ او ◈ د جنتيانو هم عبادت دے- (2)

---

[1]... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب الشكر لله عزوجل، جلد:1، صفحه:513، حديث:146۔

[2]... تنبيه الغافلين، باب ماجاء في الشكر، صفحه:254۔

## د اَلْحَمْدُلِلّٰه وئيلو فضيلتونه

◈ د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان ته وفرمائيل: ډالونه (يعنې د دښمن د ګزار نه د بچ کيدو د پاره اِستعماليدونکې وسله) راواخلئ! صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا دښمن حمله اوکړه؟ وه يې فرمائيل: نهٔ (دښمن حمله نهٔ ده کړې) بلکې د دوزخ پهٔ مقابله کښې خپلې تورې راواخلئ او سُبْحٰنَ اللهِ والْحَمْدُلِلّٰهِ وَاللهُ اَكْبَرْ! لولئ ځکه چې دا کلمات به د قيامت پهٔ ورځ د مخې او شا نه ستاسو حفاظت کوي- [1] ◈ زمونږه خوږ نبي، مکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان ته وفرمائيل: آيا پهٔ تاسو کښې څوک روزانه د اُحد د غر همره د عمل کولو طاقت لري؟ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! روزانه د اُحد د غر همره د عمل طاقت څوک لرلے شي؟ وه يې فرمائيل: تاسو ټول د دې طاقت لرئ- عرض يې اوکړو: هغه څنګه؟ وه يې فرمائيل: اَلْحَمْدُلِلّٰه وئيل د اُحد د غر نه زيات عظمت والا ده- ◈ د حضرت ابو مالِک اشعري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْحَمْدُلِلّٰه وئيل ميزان ډکوي- [2] يعنې د اَلْحَمْدُلِلّٰه وئيلو سره دومره ثواب ميلاؤيږي چې د قيامت پهٔ ورځ دا ثواب د عمل پهٔ ميزان باندې کيښودے شي نو ميزان به ډک شي- [3]

---

[1] ... مستدرک علی الصحیحین، کتاب:الدعاوالتکبیر، جلد:2، صفحه:235، حديث:2029-

[2] ... مسلم، کتاب:الطهارة، باب فضل الوضو، صفحه:106، حديث:223 ملتقطاً-

[3] ... فيض القدير، جلد:4، صفحه:384-

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته په کثرت سره د شُکر کولو او په اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیلو سره ژبه د **اللّٰه** پاک په ذِکر باندې د لـمدې ساتلو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

ذکر و درود ہر گھڑی وِردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## شُکر څۀ ته وئیلے شي؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ ته شکر گزار اِنسان جوړیدل دي، ځکه د شُکر یو وضاحت هم واورئ! اِمامُ الطَّائِفه (یعنې د اولیاؤ اِمام) د حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه عمر مبارک 7 کاله وو، هغوئي به د حضرت سري سقطي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه په خِدمت کښې اوسیدلو، یوه ورځ حضرت سري سقطي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه تشریف فرما وو، نور خلق هم حاضر وو، د شُکر په باره کښې خبره کیدله، حضرت سري سقطي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ته وفرمائیل: ځویه! ته ووایه! شُکر څۀ شے دے؟ حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه عرض اوکړو: اَنْ لَّا تَعْصِیَ اللّٰہَ بِنِعْمَۃٍ یعنې د نِعمت په بدل کښې د **اللّٰه** پاک نافرماني نۀ کول، دا شُکر دے- (1)

معلومه شوه چې اصلي شُکر هم دا دے چې اِنسان ته نعمت میلاؤ شي نو په گناهونو کښې د مصروفه کیدو په ځائے، د **اللّٰه** پاک فرمانبردار جوړ شي- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د

[1]... رساله قشیریه، کتاب الشکر، صفحه:212-

رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ نعمتونو باندې د ښه ډیر شُکر ادا کولو، د رَمَضَانُ المُبَارَک نه پس هم د رمضان د شوق پهٔ ځائے ساتلو او د نیکو نه د ډک ژوند تیرولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم

| | |
|---|---|
| ماہِ رمضاں کا غم عطا فرما | یا خُدا! چشمِ نَم عطا فرما |
| ماہِ رمضاں کے عشق میں رونا | دو جہاں کے لئے سعادت ہے (1) |

## د نیکانو خلقو یوه دُعا

پهٔ دریمه سیپاره، د سورهٔ آلِ عمران پهٔ آیت نمبر 8 کښې دي چې عقلمند او نیکان خلق داسې دُعا کوي:

| | |
|---|---|
| رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَیْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۸﴾ (پارہ:3، سورۂ آلِ عمران:8) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زمونږه رَبه! تا مونږ ته هدایت راعطا کړے دے، د دې نه پس زمونږه زړونه مهٔ کږوې او مونږ ته د خپلې خوا رحمت راکړې، بے شکه تهٔ لوئې ورکوونکے یې۔ |

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ میاشت کښې زړونه هدایت مومي ◈ د نمونځ کوونکو شمیره زیاتیږي ◈ د تِلاوت کوونکو پهٔ شمیره کښې زیاتوالے راځي ◈ پهٔ تراویح ◈

[1] … وسائل فردوس، صفحه:30۔

اِعتکاف ◈ صدقه ◈ خيرات ◈ د مسلمانانو پۀ خير خواهئ وغيره ډير قِسمه خيزونو کښې نسبتاً هم زياتوالے کيږي، يقيناً چې دا هُم هدايت دے، اوس مونږ له پکار دي چې مونږ هم د **اللّٰه** پاک پۀ دربار کښې دُعا اوکړو او وخت پۀ وخت د زړۀ نه دا دعاګانې کوو چې يا **اللّٰه** پاکه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ مياشت کښې مو د هدايت نُور نصيب شو، د نيکو جذبه زياته شوه، د نـمونځونو توفيق نصيب شو، اے زمونږه خوږه **اللّٰه** پاکه! پۀ مونږ باندې کرم اوکړې، کومې خطاګانې چې وشوې، پۀ خوښه پۀ نا خوښه چې کوم ګناهونه وشول هغه معاف کړې او د روژې پۀ مياشت کښې چې کوم د عبادتونو رغبت زيات شوے، پۀ دې کښې نوره ترقي او اِستقامت رانصيب کړې-اٰمِيْن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چې د **اللّٰه** پاک پۀ دربار کښې دُعاګانې کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! کرم به کيږي، پۀ نيکو باندې به مو اِستقامت هم نصيب شي-

| | |
|---|---|
| یا خدا! میری مغفرت فرما | باغِ فردوس مَرحَمت فرما |
| دینِ اسلام پر مجھے یا ربّ! | اِستِقامت تُو مَرحَمت فرما |
| مُشکلوں میں مرے خدا میری | ہر قدم پر مُعاوَنت فرما(1) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:75 ملتقطًا۔

# بهارِ شریعت موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه هم په مختلف انداز کښې د نیکۍ دعوت په عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د *I.T* ډیپارټمنټ له خوا ډیر ښکلے، ځانګړے او ډیر فائده مند موبائل ایپلي کیشن د بهارِ شریعت (*Bahar e shariyat*) په نوم جاري کړے شوے دے ◈ د صدر الشّریعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډیر اعلیٰ کتاب بهارِ شریعت درې واړه جلدونه په دې ایپلي کیشن کښې شامل کړے شوي دي ◈ د دې نه علاوه په بهارِ شریعت کښې شامل د قرآنِ پاک آیتونه، حدیثونه، اصطلاحات او لغت د دې ایپلي کیشن حصه ده ◈ تاسو په ایپلي کیشن کښې متن هم لټولے شئ ◈ د سرچ نور ښهٔ کولو د پاره په دې کښې د اُردو کي بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې په ایپلي کیشن کښې په لټون کښې اساني وي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** د سحر د نـمونځ کولو په وخت که نمر راوخیژي نو نـمونځ به باطِل شي-

**وضاحت:** د سحر د نـمونځ کولو په وخت که چرې نمر راوخیژي، نو نـمونځ به باطِل شي

او د دې قضا راوړل به لازمي وي، ځکه چې د سحر د نـمونځ د پاره ضروري دي چې په وخت کښې دننه سلام وګرځولے شي- [1] لکه څنګه چې په **فتاویٰ تاتار خانیه** کښې دي: یعنې که د سحر د نـمونځ ادا کولو په وخت که نمر راوخیژي، نو د سحر نـمونځ فاسدیږي-[2]

په **بهارِ شریعت** کښې دي: (د سحر د نـمونځ ، جُمعې، او د اخترونو د نـمونځونو نه علاوه که د نورو نـمونځونو د وخت ختمیدو نه مخکښې یـې که د دې نـمونځ په) وخت کښې تحریمه وتړله، نو نـمونځ قضا نهٔ شو، بلکې ادا دے، خو د سحر په نـمونځ، جُمعې او د اخترونو په نـمونځونو کښې که د سلام نه مخکښې د نـمونځ وخت ختم شو نو نـمونځ مات شو- [3]

**اللہ** پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… دارالافتاء اہل سنت، ریفرنس نمبر:Gul2346۔

[2]… فتاوی تاتار خانیه، جلد2، صفحه19۔

[3]… بهارِ شریعت، جلد:1، حصه:4، صفحه:701۔

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## يَا آخِرُ

څوک چې يو ځائے ته لاړ شي او **يَا آخِرُ** ولولي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هلته به عزت او وقار مومي۔ (1)

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... مدنی پنج سورہ، صفحه:256۔